دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه
ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !

## اوومه برخه

## دناټودبهرنی سیاست مفاهیم اونړیوال اړیکي،

## دناټوجوړښتونه اوارګانونه !

په لنډ ډول سره ودی موضوع ته یوه کتنه اواشاره :

نظامـــی تـــړونونه اودمختلفوهیـــوادونواړیکـــي ددی تـــړونونوسره تل یودمهمــــواوبنسټیزو موضوعاتواودیوی بریالی کړنلارودجملی څخه دمختلفوهیوادونودملی امنیت په څیړنه کښې شمیرل کیږی .دشمالی اتلانتیک تړون،د(ناټودسازمان ) پراختیا دسیاسی اونظامی چارود کارپوهانودلږ لیددمخې نه یواز داچې دیوشمیر هیوادونودپاره دامنیت دټینګتیا دپاره به نه وی بلکی دنړی په یوشمیرسیموکښې به دلوی ناامنی سبب هم وګرځې اوګواښونه به څه ناڅه زیات کړی . دغه موضوع هغه وخت ډېر ارزښت پیداکوی اودپام وړ ګرځي چې دا په نظر کې ونیسو چې څـــرنګه

**ددی نظامی سازمان پرمختګ په یوداهسی میتود اوډول سره پرمخ ځي چې په راتلونکی کي دسیمی په نــوروهیوادونـــوکښې به ددی نظامی سازمـــان دشتون شاهیدان اووسو .**

**دناټودشتون پراختیا اودورځ تر ورځه دنفوذ زیاتوالی دمنځنی اسیا اودقفقاز په سیموکښې اوهمدارنګه دافغانستان اودعراق په هیوادونوکښې اوپه همدی ډول سره دسیاسی کارپوهانو دځیرنواودلړلید له مخی په نږدی راتلونکی کې ممکن چې دناټوشتون لاهم پراختیا وموموی ځکه دسیمی یوشمیر هیوادونو خصوصآ دایران ګاونډیوهیوادونه غوښتني اوطرحي يې رامنځته کړی دی ،اودغه هیوادونه هم غواړي چې ددی نظامی سازمان غړیتوب ترلاسه کړی اوپه دی سازمان کښې ګډون وکړی چې ددی نظامی سازمان دنویوطرحیو اوورانديزونوپربنسټ دغه سازمان په ډېر ګړندیتوب سره خپلی تولی دوه اړخیزی اوڅواړخیزی اړیکی دفارس دخلیج دسیمی دهیوادونوسره پراختیا ورکړی اودا په ښکاره توګه ددی بهیردڅوهغه نښی اونښانی دی چې دناټوسازمان په ګړندیتوب سره غواړی چې په دی سیمه کښې وخپل نفوذ ته پراختیا ورکړی .**

**له دی کلبه دناټو دنظامی سازمان دشتون پراختیا اوګواښونه په سیمه کښې دایران اویوشمیرنوروهیوادونوخصوصآ دایران دامنیت دټینګتیا دپاره اودیوبریالی کړنلاری اودیوی منطقی څیرنی په وړاندی کولوسره ددی بالقوه ګواښونوپه وړاندی یوددپروهمهمواوبریالی کړنلاروااومسایلودجملی څخه دی چې دایران اودسیمی دنورو هیوادونودبهرنی سیاستونوپه برخه کې دپام وړاودارزښت وړ ګڼل کیدی سی هغه څه چې په لاندنی برخه کی هغه هم په نوموړی برخوکښې ناټواو دناټوپیژنده «دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان ناټوپیژندنه » په مجموع کښې دبهرنی سیاست په برخه کې یې ډېر دزده کړی مسایل درلود چې دسیاسی کارپوهانو اودنړیوالوسیاسي اړیکو دچارودکارپوهانو اودسیاسي څیرونکولخوارامنځته سویدی په دی برخه کښې دناټود جوړښتونو اودارګانونو مفاهیم په لاندی ډول سره دی .**

# دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان ناټو جوړښتونه او ارګانونه :

دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان (ناټو) جوړښتونه عبارت **د (۳)** دریو اصلی برخوڅخه دی :

**(۱) لمړی :-** دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان شورا.

**(۲) دوهم :-** مشرتابه (رئیس ) .

**(۳) دریم :-** نظامی کمیټه . په دی جوړښت کې ،شورا ،مشرتابه (ریاست) اولاندنی ارګانونه په اوهغه برخی لکه غیرنظامی او نظامی کمیټی اوځانګې په ټولیزاومجموعی توګه باندی دناټونظامی جوړښت جوړه وي .

# دشمالی اتلانتیک شورا

دشمالی اتلانتیک شورا دناټودسازمان یوبنسټیز ه اصلی برخه ده . اوټول غړی هیوادونه په دی شوراکې استازي لری اودرایودمساوی اوبرابر حق درلودونکی دي .دناټوپه شوراکې دپریکړونیول دټولوغړیودوډونوپربنسټ رامنځته کیږی اوهرهیواد یوازی دیووډ حق لري. دغه شورا په دوه سطحه کې جلسی کوي :

(۱)لمړی :- دوزیران شورا .

(۲) دوهم :- ددایمی استازوشورا .

# دوزیرانو دشورا جلسي

دوزیرانودشورا جلسي ، په کال کې دوه الی دری ځلی جلسی پرانستل کیږي ، اودا جلسيي دشورا په کاراودندوپوری تړلی دی ،یو یا څو وزیر دغړی هیواد په استازیتوب سره په هغه کې ګډون کوي . اوددی شورا دهری جلسی پرمخ بیول دغړیوهیوادونودیووزیرپرغاړه دی اونوموړی وزیر دپلان مطابق جلسه پرمخ وړی . په همدی ډول سر ه دوزیرانوشورا مسؤولیت لری چې ددی سازمان ټولیزه کړنلاره اوملی چاري اومسائل اوهمدارنګه دنظامی لوړوچاروااکواوغیر نظامی لوړوچارواکوترمنځ داړیکو تامینول اورامنځته کول په غاړه لري .

داستازودشورا جلسي هم مدام دهیوادونودداېمی استازوپه سطح کې چې تل په بروکسیل کښې شتون لري ، جلسي ترسره کیږي اودغه ډول جلسي دترتیب سوی پلان له مخی په اونی کې یوځل یا دوه ځلی جلسي صورت وموميې .ددایمی استازودشورادندی ،دیولړ چارود وړاندیزونوڅیړنه اومطالعه ده چې د هغوي په هکله دوزیرانودشورا داستازولخوا پریکړه اوتصمیم پری ونیول کیږی ،اوهمدارنګه دشوراااستازي تل دشوراپه سطح کښې چې ددی سازمان درامنځته سووپریکړواوسیاستونو څخه څارنه وکړی اوهغه ترخیل نظر لاندی ولري اودتطبیق اوعملی کولومسؤولیت پرخپله غاړه باندی لري .

## دشمالی اتلانتیک کمیټي ،تخصصی مؤسسات اوډلي :

دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان (ناټو) ددغه شورا برسیره ،دوي نوري شوراګانی هم سته دی ،چې یوشمیرنوري کمیټي اوډلي یې جوړي کړي اورامنځته کړیدي ، ترڅو ډول ،ډول مسایل لکه سیاسی ،اجتماعی،فرهنګی اونور اړین مسایل چې دغړوهیوادونو په اړه ددغوکمیټواوډلو دخوا وړاندی کیږی ،ترمطالعی اوڅیړنی لاندی نیول کیږی . ددغوکمیټیو دجملی څخه ډېرې مهمي کمیټي : دسیاسي مشاورینوکمیټه ،داقتصادی مشاورینوکمیټه ،د څیړنی .مطالعی،تدقیق اودکلنی بررسیو کمیټه ،دتسلیحاتواووسولیوکمیټه ،دنظامی بودجې کمیټه اونوري ..... داهسی کمیټي دی .

دغه کمیټي خپلي څارنې دتوصیی اووړاندیزونوپه چوکاټ کې دناټودشورا په واک کې یې ورکوي ،اوبرسیره پردغی کمیټي باندی دناټوشورا تخصصی موسسئی لکه د(ناټودفاعی کالج) ،د«پراختیا دپاره دمشاورینوډلي »،د«فضایی څیړنو ډلي » « تراوبو اوترسمندر لاندی دکښتیودڅیړنومرکز» اود«اړیکومؤسسه » هم ده ./

(نوربیا،په اتمه برخه کې ادامه لري)

**اخیځلیک :- دایسنا نیوز څخه ،او د military.ir څخه .**